Share

Twittern

دستګیر روشنیالی

۲۶/۰۶/۲۰۱۴

# فکري بنسټ پالنه او پارتيزان ليکوالان

## " ډیره مطالعه وکړي تر څو پوه شي چي هيڅ نه پوهيږي."
## مونت کيو

هغوي چي په هرڅه د پوهيدو دعوي لري جاهلان دي.

په نړی کي هره ورځ په سلګونو، زرګونو ليکوالان ليکني کوي، خو ليکني د ګوتو په شماردي. ليکوال کيدل اسانه دی، ستونزه په ليکلو کي دي. له بده مرغه د ليکنو په ډګر کي پارتيزان ليکوالان هم عمل کوي، کوم چي د فکرونو او نظريو په ځای له وګړو، څيرو او نومونو سره په جګړه کي دي او چيري چي دوي د خپلو مخالفينو په وړاندي د توهين کولو، تورولو، تحقيرکولو او مسخره کولو له ژبي کار اخلي.

دا پارتيزانان په دي پسي نه ګرزي چي څه ويل کيږي او څه ليکل کيږي. دوي په دي پسي هم نه ګرزي چي ددي او هغه سياست کونکی، ددي او هغه کانديد... تګ لاره، پروګرام او شعارونه څه دي. د دوي ټول پام دي ته دی چي څوک يې وايي او څوک يې ليکي. په بل عبارت دوي د ويلو په ځای په ويونکي او د ليکلو په ځای په ليکونکی د سياست په ځای په سياست کونکی، د تګ لارو او شعارونو په ځای ددي او هغه کانديد اود هغه په شخصي او کورنی ژوند، د هغه په مورِ، ښځه، پلار، نسب ... پسي ګرزي او ورته توهين او سپکاوی کوي.

واقعآ د انتخاباتي کمپاين په دوران کي څومره بدي او څومره توهين کونکي او سپکونکي خبري واوريدل شوي. دڅومرو غصو، ګواښونو، تعصبونو... څرګندوني وشوي. نه يوازي تورونه، توهينونه او ښکنځلي، بلکي هڅه وشوه سياسي سيالي په قومي او شخصي سياليو بدلي کړي.

پارتيزان ليکوالان خپل مخالفين هغه شان نه زخمي کوي چي ورنه وينه ولاړه شي او د علاج کولو له پاره کلينک او شفاخاني ته ورشي. دوي د خپلو مخالفينو ټول وجود او روان زخمي کول غواړي. دوي په بشپړه بي پروايي قانون او د قانون صلاحيت په خپل لاس کي اخلي او خپلو مخالفينو ته " خائن" " مزدور" " ګوډاګی" " ټپوس" "منحرف" " بي اصله" ... خطاب کوي. پداسي حال کي چي دا دليکوال دنده نه دی چي چا ته " خائن" " مزدور" ...ووايي. دا د محکمي او د هغه چا کار دی چي قانون ورته صلاحيت وکړی وي.

پارتيزان ليکوالان په ښکنځلو، تورونو لګولو، سپکولو او مسخره کولو سره غواړي له نورو د ويلو، ليکلو او سياست کولو حق واخلي. خو په عمل کي دوي په پراخه توګه خپل ځانونه مسخره او سپکوي او د خپلی پراخي نادانی ثبوت ورکوي. دوي نه يوازي له خپله عقله د کار اخستلو ميرانه نه لري، بلکي په دليل او منطق کي هم په بي ساري توګه بي وسه ښيي او تراوسه يي دا پوهه نه ده ترلاسه کړي چي د ليکلو ډګر د انديښنو، نظرياتو، منطق او استدلال ډګر دی. د ليکلو ډګر د پارتيزاني په ځای د فکرونو د سيالي ډګر دی.

زه په پخپله له ليکوال سره حتي له هغه چا سره چي نه يي پيژنم او يا هم په مستعار نوم ليکني کوي هيڅ ډول ستونزه نلرم. د ما ټول پام د هغه ليکني ته دی. که د ليکني کومه برخه مي نه خوښيږي د ليکوال په شخصی ژوند، د هغه په کورنی او نسب پسي نه ګرزم، بلکي د هغه شخصيت ته په درناوی درلودلو سره يي انتقاد کوم. که ددي او هغه د سياست مخالف يم هيڅکله د هغه مخالفت نه کوم او د انسانی کرامت درناوی يي کوم. ما ته دا خبره اهميت نلري چي ليکوال پرون څوک وو، نن کومه سياسي عقيده لري، چپ دی، ښی دی، مذهبي دی، مذهبي نه دی...مهمه مسله بيا هم د هغه د ليکنو کيفيت او پيام دی.

زه د هر ډول نظريو درناوی نه کوم.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزي بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

زه د هر وګړي درناوی کوم. د هر وګړی د نظریو او فکرونو د درولودلو د حق درناوی کوم، خو هیڅکله د هر ډول نظریاتو، هر ډول ذهنیتونو درناوی نه کوم. زه د هغه عام ذهنیت په پرتله چي په جهالت، زور او تعصب ولاړ وي د یوه ځانګړی وګړي د نظریی احترام ساتم. همدارنګه هغه نظریي چي نه یوازي د ټولني د ستونزو په حل کولو کي مرسته نه کوي، بلکي نوی ستونزي را پیدا کوي د هیڅ ډول درناوی وړ نه دي..

زه څنګه کولاي شم دهغو فکرونو درناوی وکړم چي له انسانه د قوم، مذهب، نژاد، رنګ، جنس... په بنیاد نجس جوړوي او انسانان په اصل او کم اصل ویشي...

فکري تروریستان.

پارتیزان لیکوالان د فکري بنسټ پالني په دود عمل کوي. فکري بنسټ پالنه د تعصب او جهل ترکیب دی. فکري بنسټ پالنه یوه ذهني ناروغي او منفي تفکر دی. دا د تعصب، قهر، غصي، ځیل کولو او زغم نه درلودلو تفکر دی. په دي تفکر کي په ځانګړي توګه تعصب او ځیل دومره غلبه کوي چي د خپلو مخالفینو د ځیرو د لیدلو او نومونو په اوریدلو هم لاره ورکوي، ددي تفکر خاوندان په خپلو فکرونو کنترول له لاسه ورکوي، منطق او استدلال پریږدي تورونو لګوی او ښکنځلي کوي او د دوي دا چلند ښیي چي دوي له عقله په کار اخستلو کي څومره ناکام او څومره کمزوري وګړي دي. پارتیزان لیکوالان له یوې خوا د ټولني او ټولنیزو جوړښتونو له ژورو او پیچلیو ستونزو بي خبره دي او له بلي خوا ددي پوهه نلري چي لامل څه؟ عمل څه، پایله یا پایلي څه؟ او تاثیرات یي څه ؟

همدارنګه ځیل او تعصب په پراخه اندازه د واقعیتونو په هکله د دوي لید او پیږندنه مسموم کړي دي او نشي کولاي خپل هدفونه وټاکي. دوي د خپل فکر د خپلواکي د ساتلو په کار کي هم پاتي راغلي دي او له همدي امله دوي د نورو د عظمت او تقدس ستاینه کوي، ورنه پیشوا، بابا... جوړوي او د هغوي په بي ارادی پیروانو بدلیږي. هغوي چي په پیشوا، بابا... پسي ګرزي په ذهني او فکري لحاظ نابالغه دي. پام مو وي، په پیروي کي همیشه دا خطر شته دی چي انسان د بل انسان په بنده بدل شي. پیروي د فکري تمبلي لامل دی او د فکري تمبلو خوښیږی نور د دوي په ځای فکر وکړي.

پارتیزانانو لیکولانو ته شکنځلي کول، تورونه لګول، دروغ ویل، له نورو نفرت کول، ځیل کول د بیان ازادي ښکاري او په دي کار سره دوي ددي ښکاره ثبوت ورکوي چي دوي نه پوهیږي د بیان ازادی څه، ضرورت یي څه او ښیګني یي څه دي. دوي ته باید وویل شي، د بیان ازادي یوه جوړونکی او مثبت فکر او چلند ته ضرورت لري، یو چلند چي له تعصبه، ځیل، قهر... خلاص وي. د بیان ازادي په نفرت کولو او له نورو سره په دوښمني کولو کي نه ترلاسه کیږي.

مدرن جهالت

لیکوالي د واقعیتونو، پیښو، تاریخ او ټولني ترمنځ رابط دی. لیکوالي ټولني ته د موجودو او راتلونکو خطرونو په هکله خبر ورکول، په پیښو او ذهنونو تاثیر درلودل دي. د ښکنځلو، تورونو، تحقیرکولو... پهلوانان د کومي رابطی بیانول، د کوم خطر زنګ وهل او په کوم ذهن تاثیرکول غواړي؟

همدارنګه پوښتنه داده، چي پارتیزان لیکوالان د تورونو، ښکنځلو، توهین کولو... پوسیله ځان ته د کومي اتوریتي، د کوم نوم او د کوم هویت پیدا کول غواړي او په ویونکو د څه ډول تاثیر اچولو تمه کوي؟؟

په حقیقت کي پارتیزان لیکوالان بنسټ پالانوته پاتي کیږي او د منطق، علم، زده کړي، ازادو اندیښنواو پرمختګ په ضد د تعصب او کیني لښکر دی او غواړي نه یوازي د وګړو، بلکي د ټولني مغزهم پریمنځي. دا پارتیزانان د علم او اندیښني سره په جګړه کي په داوطلبانه توګه د افسانو، تعصب او جهل په یرغمل بدل شوي دي.

دوي د میلیونونو انسانانو د په اسارت نیولو او په اسارت کي د هغوي د ساتلو له چاري سره مرسته کوي. سره ددي چي دوي هم انسانان دي، خو په بشپړه بي باکي سره د انسانانو په تیره بیا د ښځو حقونه، ازادي او پرمختګ مسخره کوي او د هغوي له انساني ارزښتونو انکار کوي. "ښځه څه، حقونه څه، او ازادي یي څه؟؟

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

سره ددی چې نوي دنيا د نويو انديښنو پايله ده. خو بنسټ پاله او پارتيزان ليکوالان هڅه کوي انديښنه د جهل په اسارت کې راولي او د هغي خپلواکي له منځه يوسي.. دوي په يوويشتمه پيړۍ د نورو د حق او ازادي، د نورو د ازادو انديښنو او ازادو فکرونو د حق درناوی نه کوي او غواړي خپلي جاهلانه نظريي په نورو تحميل کاندي او دا دواړه له راتلونکي ډاراو مدرن جهالت دی. هغوي چې خپلي نظريی مکملی ګڼي له خپلو نظريو د باندي نړۍ نه پيژني.

کله چې د شعور په هکله خبري کوو. بي شعوري له ياده ونباسو. کله چې د علم په هکله خبري کوو، بي علمي له ياده ونه باسو. د موږ د زماني بي شعوري له پرونی بي شعوري او د موږ د زماني بي علمي له پرونی بي علمي په بی ساري توګه خطرناکه دي او خطر هم په دي کي دی کله چې علم او په ځانګړي توګه تکنولوژي له بي شعوري سره يو ځای شي ځومره لوی ناورين را منځ ته کولاي شي.

اوس هغه وخت را رسيدلی چې وګړي د عقل او پوهي پوسيله د دواړو ځيل او جهل له اسارت خلاص شي او اميد دی پارتيزان ليکوالان هم ددي وس او پوهه پيدا کړي چې ځانونه له افراط وژغوري او په ليکنو او بحثونو کي له منطقه کار واخلي. د تورونو، تهمتونو، ښکنځلو.. په ځای په استدلال تکيه وکړي. د نورو په شان مسؤليت منلو ته چمتو شي او دا کار له ځيل او جهل د خپل فکر او عقل په ژغورلوکي عملي کيږي.

له بده مرغه يو شمير سايتونه او د فيسبوک يو شمير پاڼي د خرافاتو، افسانو او جهل خرڅولو بازارونو ته پاتي کيږي او ددي سايتونو ځنيي برخي د انسانانو او د هغوي د کرامت د توهين کولو په کلوبونو بدلي شوي دي. رښتيا هم په دي سايتونو کي ځومره ښکلي ګلان کرل شوي دي!!!

هغه وخت د هميشه له پاره تير شوی چې مخالفين د تورونو، تحقيرونو او ښکنځلو پوسيله د ليکلو له ميدانه وايستل شي. په عمل کي ددي چلند پيروان تيروتنه کوي اوس هغه وخت راغلی، که دوي په خپله له فکري بنسټ پالني، له تورونو او ښکنځلو... د راوتلو وس پيدا نه کړي دا به دوي وي چې د ليکلو ميدان به پريږدي او دا د دواړو عقل او وخت غوښتنه ده.

پارتيزان ليکوالان په تورونو او تهمتونو سره په ښکاره دواړه اخلاقي او انساني اصول پايمال کوي. همدا شان دوي هڅه کوي خپله مجازي دنيا له واقعي دنيا سره پيوند او يا هم واقعي دنيا د خپلو نظريو په مجازي ديوالونو کي را ايسار کاندي. دا ډول وګړي فکري تروريستان دي. که وسله وال تروريستان انسانان وژني، دوي فکرونه او انديښني وژني.

انتقاد او انتقاد کول.

له هغوی سره چې په تاريکی کی ناست دی بحث مه کوه، که غواړي دا کار وکړي ته به هم تاريکي ته ورکوز شي.

که موږ د پوهي پوسيله کولاي شو د ټولنيزو ژوند د موجودو جوړښتونو، ارزښتونو او اړيکو تعريف او پيژندنه وکړو د انتقاد کولو له لاري کولاي شو د ټولنيزي نابرابري، بي عدالتي او استبداد ځيري را لوڅي کړو او د واکمنو ارزښتونو کمزوري خواوي په ګوته او د بدلون غوښتنه يي وکړو.

پارتيزان ليکولان په انتقاد او انتقاد کولوهم نه پوهيږي او دوي بي هدفه وګړي دي. د دوي دنده د نورو د هدفونو ويجاړول دي او دا يي سخت ځوروي چې نور د خپلو هدفونو په لور په پرمختګ کوي او لاس ته راوړني لري. دوي د مسؤليت منلو وړتيا او جرئت هم نه لری، له مسوليته تښته کوي او دا د دوی د اخلاقي کمزوری نښاني دي. دوي ډيره غورزوي، خولاسونه تر شا نيسي.

ټولنه د د رنګارنګ نظريو او فکرونو چې هميشه له يو بل سره په مخامخ کيدو او سيالي کي دي مجموعه ده. په ټولنه کي هميشه د خطاګانو او تيروتنو امکان شته دی او انتقاد کولاي شي د هغوي د واقع کيدو مخه ونيسي. بريالي ټولنه هغه دی چې خطاګاني او تيروتني په پيل کي پيدا، اصلاح او مخه يي ونيسي. په ټولنه کي ناخوالي، بي عدالتي، فساد، نيمګړتياوي، تيروتني ... دي چې د انتقاد او انتقادي تفکر ضرورت يي را منځ ته کړی. د انتقاد هدف دادی چې غير عادلانه او ظالمانه چلند له منځه ولاړ شي. د انتقاد هدف دادی چې په تيروتنو او خطاګانو غلبه وشي. د انتقاد هدف د سمو پريکړو اود حل د سمي لاري په ګوته کول دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ویل، لیکل، د نظریو تبادله کول او انتقاد کول یوهمیشنی ضرورت دی او دا همیشه وګړو او ټولني ته د فکرکولو او بیا فکر کولو امکان ورکوي تر څو سمه لاره پیدا کړي او په دي کارکي هیڅکله هم حقیقت نه ماتیږي. موږ اړ یو د پرون خلاف له عمل کولو مخکي فکر وکړو، بحث وکړو، له یو بل سره خپلي نظریي شریکي کړو تر څون د تصمیم او سم عمل کولو زمینه برابره شي او دا دموکراسي یو بنیادي اصل دی.

فکرونه په خط کش نه اندازه کیږي.

انتقاد د فکرونو د ازمایښ وسیله ده.

موږ نشو کولاي د خپلو فکرونو سموالی او نه سموالی په لابراتور کي ازمایښ کړو. موږ نشو کولاي خپل فکرونه په خط کش اندازه کړو. انتقاد د فکرونو د آزمایښ وسیله ده. موږ باید انتقادي فکر ولرو او هیڅوک د انتقاد په وړاندي خوندیتوب و نه لري. انتقاد باید د موږ د ذهن او روح په نه بیلیدونکي برخه بدل شي تر څو د خپلو تصوراتو، پرونیو تصوراتو، د خپلو تجربو او چلند په هکله بیا او بیا کتنه او څیړنه وکړو، تر څو د تصمیم نیولو امکان ترلاسه کړو، څه وسائل شي، څه اصلاح شي، څه بدل شي او څه رد شي او دا به له ځانه د انتقاد کولو پیل وي. سره ددي چي د یوه وګړي فهم او فکر همیشه محدود دی، خو همیشه له هغه څه چي دی زیات ښودل کیږي. ددي ستونزي د حل لاره شک درلودل او انتقاد کول دی.

له پوهي کرکه له انسان کرکه ده.

موږ باید ځان انتقاد کړو او په دي اعتراف وکړو چي نه یوازي د نړۍ په علمي لاس ته راوړونواو پرمختګ کي ونډه نه لرو، بلکي په ښکاره او څرګنده ور سره توربورګیني او دوښمني کوو. له پاره ددي چي موجود جهل له لاسه ور نه کړو د علم او پرمختګ په ضد مو د جګړي اعلان ورکړي دي. دلته جهل نه یوازي ویاړ او افتخار دي، بلکی آرمان هم دی او د همدي آرمان په منظور ښوونځي سوزول کیږي، ښوونکي وژل کیږي. زده کونکي ویرول او مسموم کیږي.

له یوې خوا برتري غوښتنه او له بلي خوا د خپلي تباهي لاربښوونه. دا ډول یو پرادوکسل چلند به له جهل او ځیل پرته په کوم منطق او په کوم عقل توجیه کیږي؟ دا به څه ډول ټولنه وي. دا به څه ډول قوم وي، چي په پخپله د خپلي تباهي لاربښوونه کوي او په دا ډول یوه ټولنه کي هر څه ماتیدونکي او هر څه پیښدونکي دي. د وزیرستان اوسنی حالت او نامعلوم برخلیک تر ټولو ښه درس دی.

کله چي یوه ټولنه په بحران کي وي، کله چي یوه ټولنه په جګړه کي وي او هره ورځ قرباني ورکوي نه باید منتظره پاتي شي اوکه همدي حالت ته قسمت او نصیب وایي، که همدا حالت يي خوښ وي اوورباندي شکر باسي باید د راتلونکو، ماشومانو او ځوانانو په هکله فکر وشي. د روښنفکرانو دنده دی چي ددي ډول ټولني د ټولو برخو او ټولو خواو په هکله بیا او بیا کتنه وکړي. نه باید په ستونزو لاس را تیر شي او نه باید په ستونزو لویه ډبره کښیښودل شي. د روښنفکرانو دنده د ډبري په شان د کلک شویو فکرونو او کرل شویو ذهنونو له بندنه د ټولني ژغورل دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ